مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۱/۰۴/۱۵

پوښتنې وکړئ، پوښتنې ښې دي

له اوياميې لمريزې (نويېمې ميلادي) لسيزې سره د اوسنيو کلونو په افغان او افغانستان کې څه توپيرونه وينئ؟

بحث وکړئ،

منفي توپيرونه به هم وي، خو ما ته يې دغه څو مثبت توپيرونه خورا پامور دي:

- هغه کلونه ايله يوه دولتي رسنۍ وه او څو افغانستان ضد نړيوالې شبکې، خلکو ته ريښتينې معلومات نه رسېدل. خلک له ګڼو پرمختګونو بېخبره ول، اوس د هرچا جيب کې يوه نړيواله رسنۍ ده او هره سياسي پرېکړه په ثانيو کې د عامه افکارو ترمنځ خوريږي.

- هغه مهال خلکو غږ نه درلود، اوس د ښځو په ګډون خلک غږ لري.

- د لوستيو افغانانو شمېر لږ ترلږه د هغې زمانې په اندول لس ځلې زيات دی.

- ګڼو خلکو ګاونډی هېواد (قلعهٔ اسلام) ګاڼه، پوځي مشر ته يې مدحيه او مرثيه قصيدې ليکل کېدې، خو اوس يې تر ۹۰٪ زيات خلک يوازينی او تر ټولو ګواښمن دوښمن او د سرقاتل بولي.

هغه وخت، چې جګړه مارو د افغانستان د ملي پوځ ارزښتمن وسايل او نوره ملي شتمني پر دغه ګاونډي پلورل، لويه برخه خلکو دا هم يو لوی ثواب او د کفارو غنيمت ګاڼه، خو اوس د همغو خلکو دوهم نسل، ځوان او ويښ نسل، هغې کړنې ته د ملي خيانت په سترګه ګوري او لاړې ورتو کوي.

- هغه مهال خلکو د افراطي وسلوالو د واکمنۍ خوند لا نه و څکلی، اوس يې دا خوند څکلی دی.

- ولس د کنډوالي کابل، لوټ تاريخ، ړنګ هېواد، بې ارزښته کرنسی، بې بيرغه، بې قانونه، بې ملي سېمبوله وطن تصور هم کړای نه شو، اوس يې خاطرې په اذهانو کې تر ټولو تياره برخه جوړوي.

- هغه مهال ښاري نفوس، چې مدني ژوند، ښوونځي و پوهنځی او په هغو کې د فيزيک و کيميا و الجبر و هندسې درس لوستل غواړي خورا کم و، خو نن د ښاري نفوس شمېر د هغه مهال ټول افغان نفوس دوه چنده زيات دی. دغه نفوس ښوونځي و پوهنځي غواړي او په هغو کې ساينس، هنر، تيکنولوژي لوستل کفر نه ګڼي.

- هغه مهال (ملي) کلمه کفر ګڼل کېده، (افغان) او (افغانستان) يادول خلکو ته کمونيستي اصطلاحات ښکارېدل، خو اوس ملي تفکر په يوه لوی معنوي ځواک بدل شوی دی، چې ميليونونه افکار، زړونه او ذهنونه ترې ډک دي...

پوښتنې کوئ،

پوښتنې ښې دي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ